د کابل پوهنـــتون د ټولنيزو علومو علمي- څېړنيزه مجله
مجـــــله علمی- تحقیقی علوم اجتماعی پوهنتون کابل
Journal of Social Sciences - Kabul University
e-ISSN: 3078-557X P-ISSN: 3078-6657

# د ټولنې د افرادو په تربيت کې د جمعې د خطبې رول

**پوهنوال سيدابوبکر هاشمي**

اسلامي ثقافت څانګه، شرعياتو پوهنځي، کابل پوهنتون

کابل، افغانستان

ايميل: abubaker_hashimi@yahoo.com

**چکیده**

دغه څېړنه ډېر مهم او با ارزښته مطالب لري، چې لومړۍ برخه يې سريزه، دويمه برخه کې د خطبې اركان ځېړل شوي او په دريمه برخه کې د خطبې په اجزاوو بحث شوی، په څلورمه برخه کې يې د ښې او مفيدې خطبې ځانګړتياوې شرحه شوې دي. په پنځمه برخه کې د ټولنې د افرادو په روزنه کې دخطبې رول تر څېړنې لاندې نيول شوی دی. د مقالې په شپږمه برخه کې د يو ښه خطيب صفتونه او ورپسې د مخاطبينو مسؤوليت څېړل شوی دی او په پايله کې لاس ته راوړنې، پايله او د هغو اخځونو يادونه شوې، چې په دې څېړنه کې ترې ګټه اخيستل شوې ده. په دغه څېړنه کې د توصيفي، تحليلي ميتودونو څخه کار اخستل شوی.

**کليدي کلمې:** جمعه؛ خطبه؛ اعتدال؛ روزنه؛ خطيب؛ مخاطب؛ اصلاح

# The Role of the Friday Khutbah in the Moral and Ethical Upbringing of Society’s Individuals

**Sayed Abubaker Hashimi**

Department of Islamic Culture, Faculty of Sharia, Kabul University, Kabul, Afghanistan

Email: abubaker_hashimi@yahoo.com

**Abstract**

This study includes highly important and valuable topics, starting with an introduction. In the second section, the sermon (Khutbah) and its pillars are examined. The third section discusses the components of the sermon, including the introduction, the main text, and the conclusion. The fourth section elaborates on the characteristics of a good and effective sermon. The fifth section focuses on the role of the sermon in shaping and educating the individuals of society. In the sixth section, the qualities of a good preacher (Khateeb) are analyzed. Additionally, the responsibility of the audience is addressed in this section. Finally, the findings, conclusions, and references are mentioned. To achieve the objectives of this research, descriptive and analytical methods were employed. The Friday sermon is a crucial component of the Friday prayer, without which the prayer is not valid.

**Keyword:** Friday; Sermon; Moderation; Education; Preacher; Audience; Reform

**ارجاع:** هاشـــمی، س.ا. (۱۴۰۳). د ټولنې د افرادو په تربيت کې د جمعې د خطبې رول. *ژورنال علمی- تحقیقی علوم اجتماعی-پوهنتون کابل* ۷(۲). ۸۷-۱۰۲. https://doi.org/10.62810/jss.v7i3.70

## سریزه

الحمد لله رب العالمین والعاقبة للمتقین والصلاة والسلام علی خیر خلقه محمد وعلی آله وصحبه أجمعین أما بعد:

بې شکه چې خطبه د الله جل جلاله په لور د بلنې یوه وسیله ده. روزنې، توحید او تقوا ته د بلنې له مهمو وسایلو څخه بلل کیږي. له دې کبله خطبه د انبیاؤو علیهم السلام دنده وه، چې خپل قومونه د الله (ج ) توحید او اطاعت ته راوبولي، هغوی د هغه د غضب، قهر او دردناک عذاب څخه ووېروي، تر څو هغوی له ضلالت، عقیدوي فساد، اخلاقي او ټولنیز فساد څخه چې پرې اخته وو، لاس واخلي.

**د څېړنې ارزښت:** په اسلامي تاریخ کې د جمعې خطبې ته ځانګړې ارزښت ورکړل شوی دی او اسلامي شریعت ورته ځانګړي شرایط او اداب ټاکلي دي. د جمعې خطبه نه یوازې د اسلامي دین یو مهم رکن دی، بلکې د اسلامي نړۍ په ټولنیز او سیاسي ژوند کې هم ځانګړی ځای لري. دا د مسلمانانو د یووالي، شعور لوړولو، د ټولنیزو او اخلاقي ستونزو د حل یوه اړینه وسیله ده.

**د څېړنې پوښتنې:** اصلی پوښتنه

د ټولنې د افرادو په روزنه کې د جمعې د خطبې نقش څه دی؟

## فرعي پوښتنې

۱. د خطبې ارکان کوم دي؟
۲. د خطبې برخې کومې دي؟
۳. د یوې ښې خطبې ځانګړتیاوې څه دي؟
۴. د ښه او اغېزمن خطیب صفتونه څه دي؟
۵. د مخاطبینو مسؤلیتونه څه دي؟

## د څېړنې موخې

دغه څېړنه لاندې موخې لري

۱. د جمعې د خطبې روزنیز رول بیانول؛
۲. د یوې ښې خطبې ځانګړتیاوې بیانول؛
۳. د مخاطبینو د مسؤلیتونو شرحه او بیان؛
۴. د ښه خطیب صفتونه بیانول؛

**د څېړنې ستونزه (Problem)**

ډېری خلک د جمعې خطبې ته پاملرنه، نه کوې. د جمعې په ورځ یوازې دوه رکعته فرض ادا کوي او بیا کور ته ځي، چې د خطبې له ګټو او ثواب څخه بې برخې پاتې کیږي. د خطبې ګټې او د ټولنې د افرادو په تربیت کې د هغې رول په اړه، په عربي او نورو مشهورو ژبو کې ډېر کتابونه او مقالې لیکل شوي دي؛ خو په پښتو ژبه کې په دې اړه تر اوسه کومه مقاله یا کتاب ونه موندل شوو نو ومې غوښتل چې په دې هکله یوه علمي مقاله ولیکم تر څو زمونږ لوستونکي ترې ګټه واخلي.

**د موضوع مخینه:** د جمعې د خطبې تاریخي مخینه د اسلام په مقدس تاریخ او د نبوي دورې پېښو پورې اړه لري. جمعه په اسلام کې یوه ځانګړې ورځ ده، چې د مسلمانانو لپاره د عبادت او ټولنیزې غونډې ځانګړې ارزښت لري. د جمعې لمونځ د اسلامي شریعت له مهمو احکامو څخه دی او په دې لمانځه کې خطبه ورکول یو لازمي شرط ګڼل کیږي. د جمعې خطبه د اسلام په لومړیو وختونو کې رامنځته شوه. رسول الله ﷺ د مدینې منورې د هجرت نه وروسته د مسلمانانو لپاره د جمعې د لمانځه ځانګړې غونډه جوړه کړه او د دې غونډې یوه مهمه برخه د خطبې ورکول و. تاریخ وایي چې په لومړی ځل د جمعې لمونځ د مدینې په "قُباء" سیمه کې ادا شو او خطبه یې حضرت اسعد بن زرارة ورکړه. بیا وروسته رسول الله ﷺ د مدینې په نبوي مسجد کې په منظم ډول د جمعې لمونځ پیل کړ.

د رسول الله ﷺ په زمانه کې د جمعې خطبې محوري موضوعات د اسلامي عقیدې ترویج، د اخلاقي ارزښتونو بیان، د مسلمانانو تر منځ یووالي ته بلنه او د اسلامي شریعت اړوند احکام وو. خطبه به اکثره لنډه، روښانه او د وخت اړتیاوو ته په کتو ویل کېده.

د خلفاوو په دور کې په خطبو کې پرمختګ راغی . د خلافت په دوره کې د جمعې خطبه د اسلامي دولت د اعلانونو، د سیاسي پیغامونو او د ټولنیزو ستونزو د حل وسیله وګرځېده.

حضرت عمر بن خطاب رضی الله عنه او حضرت عثمان بن عفان رضی الله عنه به په خطبه کې خلکو ته دیني لارښوونې کولې او د دوی ستونزو ته به یې ځوابونه ویل.

د جمعې خطبې تر اوسه دوام لري . دلته د معاصر دور هغه کتابونه چې د جمعې خطبو په اړه لیکل شوي او د مؤلفینو نومونه ورسره ذکر شوي دي وړاندې کوم:

۱. الخطبة العصریة- مؤلف: ډاکټر محمد بن عبدالرحمن العریفي. دغه مؤلف د خطبې اهمیت ډېر ښه څېړلی دی او د یو ښه خطیب په صفتونو باندې یې ټینګار کړی او هغه یې په مفصله توګه شرحه کړي دي.

۲. خطبة الجمعة وأحكامها الشرعية - مؤلف: شیخ عبدالعزیز بن فوزان الفوزان. دغه مؤلف د خطبې احکامو باندې یې ټینګار کړی او هغه یې په روښانه توګه شرحه کړې دي.

۳. خطب الجمعة في الکتاب والسنة وأثرها في المجتمع - مؤلف: ډاکټر عبدالله بن محمد الطيار. دغه مؤلف د قرآن او سنتو په رڼا کې د جمعې د خطبې مکانت او څرنګوالی شرح کړی دی او د ټولنې په افرادو باندې یې دخطبې اغېزې تربحث لاندې نیولې. تر څنګ یې نور مسایل هم په ضمني توګه ذکر کړي دي.

ما په دغې علمي مقاله کې په لنډ ډول د خطبې ډېر مسایل شرحه کړي دي. یوه شي چې دغې څېړنې ته ځانګړتیا ورکړې، هغه داده چې دا څېړنه په پښتو ژبه ترسره شوې او تر دې وړاندې په دې اړه په پښتو ژبه چا څېړنه نه ده ترسره کړې.

**څېړندود:** دغه څېړنه د قرآن، احادیثو او فقهاوو دنظرونو په رڼا کې له توصیفي- تحلیلي میتودونو څخه کار اخیستل شوی دی.

**لومړی مبحث:** د جمعې د خطبې حکم او ارکان. په دې مبحث کې د جمعې د خطبې حکم او ارکان ترڅېړنې لاندې نیول شوي دي.

## لومړی مطلب: د جمعې د خطبی حکم

ډېری حنفي، مالکي، شافعي او حنبلي فقهاء او علماء په دې نظر دي، چې د جمعې دلمانځه لپاره د جمعې د خطبې ویل شرط او فرض دی. د دوی د استدلال اساس په لاندې دلایلو ولاړ دی:

**قرآن کریم:** د الله تعالی حکم: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا نُودِيَ لِلصَّلَاةِ مِن يَوْمِ الْجُمُعَةِ فَاسْعَوْا إِلَىٰ ذِكْرِ اللَّهِ وَذَرُوا الْبَيْعَ ۚ ذَٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ(سورت الجمعة: ۹)ژباړه:"ای هغو کسانو چې ایمان مو راوړی دی! کله چې د جمعې په ورځ د لمانځه (جمعې) لپاره اذان وشي، نو د الله ذکر ته ور وځئ او سودا پرېږدئ. دا ستاسو لپاره غوره ده که پوهېږئ." ( القرآن الکریم و ترحمة معانیه الی لغة البشتو: ج۲ ص ۱۷۲۲). علماء وایی چې: ذکر الله دلته د خطبې په معنی دی.

**حدیث شریف:** نبي کریم صلی الله علیه و سلم په هره جمعه کې خطبه ورکړې ده. لکه څنګه چې په لاندې حدیث شریف کې راغلي: کان النبي صلی الله علیه و سلم یخطب في کل جمعة خطبتین. (البخاري، ۲۰۱۷). ژباړه: نبي کریم صلی الله علیه و سلم په هره جمعه کې دوې خطبې ورکولې.

**۲- سنت یا استحباب:**

لږ شمیر فقها وايي، چې خطبه سنت یا مستحب ده؛ ځکه د جمعې لمونځ له خطبې پرته هم اداء کیدای شي. د دوی دلیل دا دی، چې خطبه د دیني نصیحت او تعلیم لپاره ده، نه د لمانځه د شرط په توګه.

**۳- دعلماوو تفصیلي نظرونه**

حنفي مذهب: په حنفي فقه کې د جمعې د لمانځه لپاره خطبه شرط ده او له هغې پرته لمونځ نه اداء کیږي (المرغیناني. ۲۰۰۰. ج۱ ص ۱۳۸).

شافعي مذهب: شافعي علماء وايي، چې خطبه د جمعې د لمانځه یوه اساسي برخه ده (النووي .۱۹۹۷. ج۴ ص۵۰۴) .

مالکي مذهب: مالکي علماء هم د خطبې وجوب ته اشاره کوي او وايي چې پرته له خطبې د جمعې لمونځ نه اداء کیږي (التنوخي. ۱۹۹۴. ج۱ ص ۱۵۲) .

حنبلی مذهب: د حنبلي مذهب له مخې خطبه د جمعې د لمانځه لپاره ضروري ده ( ابن قدامه. (۱۹۹۲. ج۲ ص ۱۷۲) .

د څلورو مذاهبو په اجماع سره له خطبې پرته د جمعې لمونځ سم نه دی، نوخطبه د جمعې د لمانځه اساسي شرط دی.

**دویم مطلب: د جمعې د خطبې ارکان:** د جمعې د خطبې ارکان په لاندې ډول دي:

۱- د الله تعالی حمد او ثناء: د خطبې په پیل کې باید د الله تعالی حمد او ستاینه وشي.

نبي ﷺ فرمایلي دي: «كلُّ خطبةٍ ليس فيها تشهُّدٌ فهي كاليد الجذماء» (ابن حنبل احمد.۲۰۰۱. ج۱۳ ص ۳۹۱) ؛ ( الترمذی (۱۹۷۵) ج۳ص ۴۰۶) . ژباړه: هره خطبه چې په هغې کې د الله تعالی حمد نه وي، هغه ناقصه ده.

۲- په توحید او رسالت باندې شهادت: په خطبه کې باید د توحید (لا اله الا الله) او د محمد ﷺ د رسالت خبر ورکړل شي.

۳- د تقوی په اړه: د خطبېپه یوه برخه کې باید خلك د الله تعالی د تقوا په لور وهڅول شي. الله تعالی فرمایلي دي: ((وَذَكِّرْهُمْ بأيام اللَّهِ...)) (ابرهيم: ۵). ژباړه: او هغوی ته د الله ( لویي او نعمتونو ) ورځې په یاد کړه. د نبي ﷺ په خطبو کې به تل د تقوا ذکر کېده.

٤- د قرانکریم تلاوت: د خطبې په جریان کې باید د قران کریم یو آیت تلاوت شي.

لکه څنګه چې په حدیثونو کې ذکر شوي، نبي ﷺ به په خپلو خطبو کېد قرآن کریم تلاوت کاوه. جابر رضی الله عنه روایت کوي: کانت لرسول الله خطبتان یجلس بینهما یقرأ القرآن، و یذکر الناس (الأصفهاني.۱۹۹٦ . ج۲ص ۴۵۱). ژباړه: رسول الله ﷺ به دوه خطبې ورکولې، د دواړو تر منځ به کښېناست، په خطبه کې به يې قرآن تلاوت کاوه او خلکو ته به يې نصیحت او یادونه کوله.

5- د رسول الله ﷺ درود: په خطبه کې باید د رسول الله ﷺ درود وویل شي.

نبي ﷺ فرمایلي دي: «من صلّى عليّ صلاة، صلّى الله عليه بها عشرا» (الآلوسی ج.۲۰۰۱م. ج۱ ص ۲۱۷)؛ (النسائي ( ۱۹۸٦) ج۲ص ۲۵). ژباړه: چا چې پر ما یو ځل درود ووایه، الله به پر هغه لس ځله رحم وکړي.

6- دعاء: د خطبې په پای کې باید د مسلمانانو لپاره دعا وشي. نبي ﷺ به په خطبو کې دعا کوله او د مسلمانانو د خیر غوښتنه به يې کوله. د جمعې د خطبې پر مهال په خطبه کې د دعا کولو اړوند یو حدیث د دعا د فضیلت په اړه دی. د رسول الله ﷺ دا قول، د دعا کولو اهمیت څرګندوي:

د ابوهریره رضي الله عنه حدیث: رسول الله ﷺ وفرمایل: "إِنَّ فِي الْجُمُعَةِ سَاعَةً لاَ يُوَافِقُهَا عَبْدٌ مُسْلِمٌ وَهُوَ يُصَلِّي يَسْأَلُ اللَّهَ شَيْئًا إِلاَّ أَعْطَاهُ إِيَّاهُ." (البخاري، ١٤٢٢ه ق. ج۷ص ۵۱).

ژباړه: "په جمعه کې یوه داسې شیبه شته، چې کله یو مسلمان بنده په هغې کې ولاړ (په لمانځه یا دعا کې) له الله څخه یو څه وغواړي، نو الله به خامخا هغه ورکړي."

**دویم مبحث:** په دغه مبحث کې د جمعې د خطبې برخې او د ښې او مؤثرې خطبې ځانګړتیاوې شرحه شوې دي.

**لومړی مطلب: د جمعې د خطبې برخې**

خطبه درې مهمې برخې لري: سریزه، متن او خاتمه. دلته يې هره برخه تشریح شوې ده.

**۱. سریزه**

سریزه د خطبې پیل دی، چې خطبې ته د اورېدونکو د پام راګرځولو لپاره ویل کېږي. په سریزه کې معمولاً لاندې ټکي شامل وي:

- حمد او ثنا: د الله تعالی ستاینه.

- درود شریف: پر رسول الله ﷺ درود ویل.
- شهادتین: د توحید او رسالت په شهادت باندې ټینګار.

د سریزې موخه: د اورېدونکو دزړونو نرمول او هغوی د خطبې اصلي موضوع ته چمتو کول دي.

**۲. متن**

متن د خطبې اصلي برخه ده، چې د خطبې موضوع پکې تشریح کېږي. په متن کې لاندې ټکي شامل دي.

الف: د موضوع د روښانتیا لپاره په قرآن او حدیث باندې استدلال.

ب: د موضوع اړوند اسلامي لارښوونې، نصیحتونه او د ژوند دستونزو لپاره د حل لارې بیانول.

ج: د شرعي احکامو عملي تطبیق او یادونه.

د متن هدف دا دی، چې اورېدونکي پوه کړي، د هغوی ایمان پیاوړی کړي او د هغوی د اصلاح هڅه وکړي.

۳. پایله

پایله د خطبې پای دی. دا برخه لنډه او جامع وي، چې د موضوع په لنډیز او پای ته رسولو کې مرسته کوي. په پایله کې د خطبې عمومي نتیجه وړاندې کېږي او په دعا کولو سره خطبه پای ته رسېږي، چې په عمومي ډول د امت د خیر، برکت او هدایت دعاګانې پکښاملې وي ( سیدسابق،۱۹۸۳. ج۱ ص ۱۹۶-۱۹۳) ؛ (ابن قدامه. ۲۰۰۰م. ص ۱۰۸-۱۱۰) ؛ (الفوزان ( ۲۰۰۳م).

**دویم مطلب: د ښې او اغېزمنې خطبې ځانګړنې**

د اسلامي لارښوونو او د علماوو د بیان په رڼا کې، یوه ښه او اغېزمنه خطبه باید لاندې ځانګړنې ولري:

۱- د روښانه او جامع موضوع ټاکل

خطبه باید د یوې ځانګړې موضوع په اړه وي، په واضح ډول وړاندې او بې ځایه اوږده نه شي.

۲- د قرآن او حدیث په رڼا کې د خطبې ورکول

د خطبې اصلي اساس باید د قرآن او نبوي احادیثو په رڼا کې وي، ترڅو اورېدونکي علمي او روحاني پیاوړتیا ترلاسه کړي.

۳- اخلاص او د نیت صفا والی

خطبه باید د الله تعالی د رضا لپاره وي، نه د شهرت یا د خلکو د خوښې لپاره. ځیني خطیبان د دې لپاره چې په خلکو کې شهرت یا لوی مقام ته ورسیږي، په خپله خطبه کې لفاظي کوي، په حکومت اونوموتو کسانو باندې بېځایه نیوکې کوي، چې دغه ډول خطبې د خلکو په روزنه هېڅ اغېز نه لري.

۴- د اورېدونکو حالت ته پام نیونه

خطیب باید د خلکو علمي، کلتوري او ټولنیزو حالاتو ته پام وکړي او د هغوی اړتیاوو ته په کتو خبرې وکړي.

۵- له اوږدوالي ډډه کول

د خطبې وخت باید مناسب وي. ډېره اوږده خطبه ستړې کوونکې‌او‌په ډېره لنډه کې بیا خلکو ته سم پیغام نه رسیږي. په عمومي توګه د اورېدونکو د بېلابېلو حالتونو ته پام نیونه، اعتدال او منځلاری توب غوره کول د یوې ښې خطبې ځانګړنه ده، ځکه اوږده وینا اکثراً اورېدونکي ستړي کوي،د کارونو د وروسته پاتې کېدو لامل کیږي او د خپلو اړتیاوو د پوره کولو څخه وروسته پاتې کیږي. رسول الله صلی الله علیه وسلم په لمانځهکې د دې اهمیت ته هم اشاره کړې ده، چې لمونځ د خطبې په پرتله خورا لوړ مقام لري. هغه وویل: (إِنَّ مِنْكُمْ مُنَفِّرِينَ، فَأَيُّكُمْ مَا صَلَّى بِالنَّاسِ، فَلْيَتَجَوَّزْ، فَإِنَّ فِيهِمُ الضَّعِيفَ وَالْكَبِيرَ وَذَا الْحَاجَةِ) (ابن بطال.۲۰۰۳م. ج ۲ ص ۳۳۳) . النیسابوري. ب ت. ج ۱ ص ۳۴۰.«ژباړه: ایخلکو! تاسې کې ځیني داسې خلك دي، چې نور تنګوي، نو هر څوك چې خلکو ته امامت کوي، هغه دې لنډ والی وکړي، ځکه چې د ده شاته لوی، کمزوری او اړتیا لرونکي خلك دي. یوه خطبه باید له نیم ساعت نه زیاته او له شلو دقیقو کمه نه وي. په بل ځای کې رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایي:

عن جابر بن عبد الله رضي الله عنه قال: "أنَّ معاذَ بنَ جبلٍ كانَ يصلِّي معَ النبيِّ ﷺ ثمَّ يأتي قومَهُ فيؤُمُّهُم، فصلَّى ليلةً معَ النبيِّ ﷺ العشاءَ ثمَّ أتى قومَهُ فأمَّهُم فافتتحَ بسورةِ البقرةِ، فانحرفَ رجلٌ فسلَّمَ ثمَّ صلَّى وحدَهُ وانصرفَ فقالوا: نافَقْتَ يا فلانُ؟ قالَ: لا واللَّهِ، ولآتينَّ رسولَ اللَّهِ ﷺ فلأخبرنَّهُ، فأتى رسولَ اللَّهِ ﷺ فقالَ: يا رسولَ اللَّهِ، إنَّا أصحابُ نواضِحَ نعملُ بالنَّهارِ، وإنَّ معاذاً صلَّى معَكَ العشاءَ ثمَّ أتى فافتتحَ بسورةِ البقرةِ، فقالَ رسولُ اللَّهِ ﷺ: أفتَّانٌ أنتَ يا معاذُ؟ ثلاثًا، اقرأْ: والشَّمسِ وضحاها، وسبِّحِ اسمَ ربِّكَ الأعلى، واقرأْ باسمِ ربِّكَ، واللَّيلِ إذا يَغشى." (القاسمي.۱۹۹۴م. ج۱ص۲۵۹) ؛ (ابن رجب الحنبلی. ۱۹۹٦م. ج٦ ص ۲۱۴).

ژباړه:جابر بن عبدالله رضی الله عنه روایت کوي: "معاذ بن جبل به له رسول الله ﷺ سره لمونځ کاوه، بیا به خپل قوم ته ورغئ او هغوی ته به یې جماعت ورکاوه. یوه شپه یې رسول الله ﷺ سره د ماسختن لمونځ وکړ، بیا خپل قوم ته ورغئ او هغوی ته یې جماعت ورکړ د "بقرې" په سورت یې تلاوت پیل کړ. یو سړی له لمانځه څخه ووت او ځانته یې لمونځ وکړ. خلکو ورته وویل: تا نفاق وکړ؟ هغه وویل: نه، قسم په الله، زه به رسول الله ﷺ ته ولاړ شم اودا خبره به ورته ور ورسوم. هغه رسول الله ﷺ ته راغی او شکایت یې وکړ: ای رسول الله! موږ ورځني کارگر خلك یو او معاذ بن جبل د ماسختن لمونځ له تا سره وکړ او بیا مونږ ته راغی، د بقرې په سورت یې تلاوت پیل کړ. رسول الله ﷺ معاذ ته وفرمایل: ای معاذه، ایا فتنه جوړونکی یې؟ (دا خبره یې درې ځله تکرار کړه)، بیا یې ورته وویل: لنډ سورتونه لکه "والشمس وضحاها"، "سبح اسم ربك الأعلى"، "اقرأ باسم ربك" او "والليل إذا يغشى" ولوله."

أن النبي صلى الله عليه وسلم قال: «السمت الحسن، والتؤدة، والاقتصاد، جزء من أربعة وعشرين جزءمن النبوة» (الشيباني.۱۹۹۱. ج ۲ ص ۳۳٦) ؛ ( الملا الهروى القارى.۲۰۰۲. ج۷ ص ۷۲۹۱۴).
ژباړه: ښه خبره، نرمي او اقتصاد د نبوت له څلورویشتو برخو څخه یوه برخه ده.

یوه ښه او اغېزمنه وینا باید ډېره لنډه نه وي، ځکه چې په خطبه کې نیمگړتیا پیدا کوي، اغیزه یې له منځه ځي او مخاطبین گټه ترې نه شي پورته کولی. اما، یوه معتدله خطبه لمونځ کوونکي نه ستړي کوي، هغوی یې په ډېر شوق سره اوري او د خطبې مطلب هم هغوی ته په بشپړه توگه رسېږي.

٦- ساده ژبه او روانه وینا
خطیب باید روښانه او روانه ژبه وکاروي، ترڅو یې هر څوك په اسانۍ سره وینا درك کړي.

۷- نصیحت او اصلاح ته هڅونه
خطبه باید خلکو ته د گناهونو د پرېښودو، د تقوا د خپلولو او د اسلامي اخلاقو د غوره کولو لارښوونه وکړي.

۸- دعا کول
د خطبې په پای کې د مسلمانانو د اصلاح، هدایت او برکت لپاره دعا کول اړین دي. دا دعا د خطبې روحاني تاثیر زیاتوي (ابن القیم. ج ۱ صص ۸۰-۸۲) .

**دریم مبحث**:دغه مبحث درې مطلبه لري، چې په لاندې ډول ترڅېړنې لاندې نیول شوي دي:

**لومړې مطلب: د اسلامي امت په روزنه کې د جمعې د خطبې رول**

په اسلامي ټولنه کې د جمعې خطبه یو بنسټیز رول لري، ځکه چې دا د مسلمانانو د اصلاح، ښوونې او روزنې یوه منظمه او اغېزناکه وسیله ده. د خلکو د ښوونې لپاره یې لاندې ګټې د یادونې وړ دي.

۱- د عقیدې اصلاح

د جمعې خطبه د توحید او عقیدې په بیانولو سره، د خلکو دیني باورونه پیاوړي کوي او د شرک او بدعت مخه نیسي.

2- د اسلامي اخلاقو رواجول

د خطبې په وسیله خلک د صداقت، عاجزۍ او امانتدارۍ په ډول غوره اخلاقو ته هڅول کېږي.

3- د دیني علم خپرېدل.

د قرآن او حدیثو په رڼا کې د اسلامي احکامو او مسائلو بیان د خلکو دیني پوهه ډېروي.

4- د ټولنیزو ستونزو حل

د خطبې له لارې د ټولنې ستونزې په ګوته کېږي او د سمونې لپاره یې لارې چارې وړاندې کېږي.

. لکه: بې عدالتۍ، نفاق او فساد.

5- د مسلمانانو یووالي ته هڅونه: د جمعې لمونځ او خطبه د مسلمانانو د یووالي او وروروله سبب ګرځي.

6- د تقوا او پرهېزګارۍ لوړول: د خطبې نصیحتونه خلک له الله تعالی څخه د وېرې او اطاعت په لور هڅوي.

7- د وخت اړتیاوو ته ځواب ورکول: د خطبې په وسیله د معاصرو موضوعاتو په اړه اسلامي دریځ واضح کېږي. لکه د ټکنالوژۍ، ښوونې او کلتور مسایل.

8- د عمل کولو لپاره هڅونه: خلک د خپل دیني مسؤولیت ترسره کولو ته هڅول کېږي. لکه صدقه ورکول، د والدینو خدمت او د ګاونډیانو حقونه پوره کول.

9- د ګناهونو مخنیوی: د خلکو د اصلاح لپاره د ګناهونو د زیانونو بیان او د توبې لارې چارې ډېرې ګټورې وي.

10- د اخروي ژوند یادونه: د اخرت د حساب او کتاب یادونه خلک له بې پروایۍ را باسي او د نېکو عملونو لپاره یې هڅوي ( سید سابق.۱۹۸۳م. صص۱۹۲-۱۹۵) .

**دویم مطلب: د ښه خطیب ځانګړتیاوې**

د اسلامي لارښوونو او علماوو په وینا، یو ښه خطیب باید لاندې ځانګړنې ولري، ترڅو د خپلې وینا په وسیله خلکو ته دیني او اخلاقي ګټه ورسوي.

۱. اخلاص او نیک نیت: خطیب باید خپله خطبه یوازې د الله تعالی د رضا لپاره وړاندې کړي او له شهرت او دنیوي ګټې څخه ډډه وکړي.

۲. دیني علم او بصیرت: یو خطیب باید د اسلامي علومو په ګاڼه سمبال وي، ترڅو سمې او معیاري لارښوونې وړاندې کړي.

۳. حکمت او پوهېدنه: خطیب باید د مخاطبینو د حالت، ټولنیزو اړتیاوو او ستونزو ته په کتو خبرې وکړي. ځای او وخت درک کړي او د هغې سره سمې خبرې وکړي.

۴. ښه او روانه وینا: خطیب باید ساده، روښانه او روانه ژبه وکاروي، ترڅو ټول اورېدونکي د هغه له وینا څخه ګټه پورته کړي.

۵. د ښو اخلاقو خاوند: خطیب باید د ښو اخلاقو خاوند وي او په خپله وینا باندې عمل وکړي، ځکه چې د عمل اغېز د خبرو په پرتله ډېر دی.

۶. د وینا وضاحت او ترتیب: خطیب باید خپله وینا په منطقي تسلسل سره وړاندې کړي او موضوع په روښانه توکه تشریح کړي او په دې توګه خپله وینا اغیزمنه کړي.

۷. صبر او زغم لرونکی: خطیب باید په هر حالت کې صبر ولري او د خلکود پوښتنو یا نیوکو په وړاندې خپله حوصله ونه بایلي.

۸. په قراني او نبوي احادیثو باندې استدلال وکړي. وینا یې باید د دین په اصولو ولاړه وي.

۹. د ټولنیز بدلون احساس: خطیب باید با احساسه شخص وي. باید د ټولنې ستونزې او اړتیاوې وپېژني او خپلې ویناوې د هغوی د حل لپاره وړاندې کړي.

۱۰. د خلکو اصلاح ته هڅونه: خطیب باید د خلکو په زړه کې د خیر او اصلاح شوق پیدا کړي او هغوی نیکو عملونو ته وهڅوي ( بکر ابوزید، ۲۰۰۰م. صص۶۰-۶۴).

**دریم مطلب: د امام د خطبې پر وړاندې د مخاطبینو مسؤولیت**

د اسلامي لارښوونو پر بنسټ، مخاطبین د امام د خطبې په وړاندې ځینې مهم مسؤلیتونه لري، چې دا د جمعې د خطبې ارزښت او اغېز نور هم زیاتوي. چې په لاندې ډول یې یادونه کیږي:

١. د خطبې د اورېدو لپاره دخپل نیت صفا کول: مخاطبین باید د خطبې اورېدو نیت د الله تعالی رضا او د دیني لارښوونو ترلاسه کولو لپاره وکړي، نه داچې د یوه دود دپوره کولو لپاره خطبې ته حاضر شي.

٢. چوپتیا غوره کول او پاملرنه کول: په خطبه کې خبرې کول یا بې پروایي کول منع دي. رسول الله ﷺ فرمايي "إِذَا قُلْتَ لِصَاحِبِكَ يَوْمَ الجُمُعَةِ: أَنْصِتْ، وَالإِمَامُ يَخْطُبُ، فَقَدْ لَغَوْتَ " ژباړه: که د خطبې پر مهال دې خپل ملګري ته وویل چې چوپ شه، نو تا په خپله بې ځایه کار وکړ" (البخاري . ۱۴۲۲. حدیث نمبر۹۳۴) ؛ ( الشافِعی. **۱۹۵۱ م. ج۱ ص ۱۳۷)** .

٣. د خطبې پر مهال احترام کول: مخاطبین باید د امام وینا ته بشپړ احترام وکړي او د خطبې پر مهال له غیر اړینو حرکتونوڅخه ډډه وکړي.

٤. د وینا په اړه غور او فکر کول: مخاطبین باید د خطبې موضوع ته په غور سره پاملرنه وکړي او د امام پیغامونوته په زړه کې ځای ورکړي.

٥. د خطبې د لارښوونو عملي کول: د خطبې ریښتینی اغېز هغه مهال څرګندیږي، چې مخاطبین د امام له وینا څخه زده کړه وکړي او په خپل ژوند کې یې عملي کړي.

٦. د امام لپاره دعا کول: مخاطبین باید د امام لپاره د اخلاص، برکت او ښې وینا دعا وکړي، ترڅو هغه د ټولنې د اصلاح په برخه کې بریالی شي.

**٧.** ٧- د خطبې لپاره وختي راتلل: مخاطبین باید د جمعې لمانځه ته په خپل وخت حاضر شي، څو د خطبې ټولې برخې واوري. د رسول الله ﷺ حدیث دی: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَنِ اغْتَسَلَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ غُسْلَ الْجَنَابَةِ، ثُمَّ رَاحَ فِي السَّاعَةِ الأُولَى، فَكَأَنَّمَا قَرَّبَ بَدَنَةً، وَمَنْ رَاحَ فِي السَّاعَةِ الثَّانِيَةِ فَكَأَنَّمَا قَرَّبَ بَقَرَةً، وَمَنْ رَاحَ فِي السَّاعَةِ الثَّالِثَةِ فَكَأَنَّمَا قَرَّبَ كَبْشًا أَقْرَنَ، وَمَنْ رَاحَ فِي السَّاعَةِ الرَّابِعَةِ فَكَأَنَّمَا قَرَّبَ دَجَاجَةً، وَمَنْ رَاحَ فِي السَّاعَةِ الْخَامِسَةِ فَكَأَنَّمَا قَرَّبَ بَيْضَةً، فَإِذَا خَرَجَ الْإِمَامُ حَضَرَتِ الْمَلَائِكَةُ يَسْتَمِعُونَ الذِّكْرَ» (الاصبحی المدني. ۱۹۸۵ م. ج۱ ص ۱۳۹) ؛ ( الدارمي، البستي. ۱۹۹۳. ج۷ ص ۱۳).

ژباړه: (چا چې د جمعې په ورځ د جنابت غسل وکړ، بیا په لومړي ساعت کې د جمعې لپاره ولاړ، نو داسې دی لکه یو اوښ یې چې قرباني کړی وي او که په دویم ساعت کې ولاړ، نو داسې دی لکه یوه

غوا یې چې قرباني کړې وي. که په دریم ساعت کې ولاړ، نو داسې دی لکه یو ښکرور ګډ یې چې قرباني کړی وي، که په څلورم ساعت کې ولاړ، نو داسې دی لکه یوه چرګه یې چې قرباني کړې وي، او که په پنځم ساعت کې ولاړ، نو داسې دی لکه یوه هګۍ یې چې قرباني کړې وي او کله چې امام راځي، نو ملایکې د ذکر اورېدو لپاره حاضرېږي).

وَمَا اجْتَمَعَ قَوْمٌ فِي بَيْتٍ مِنْ بُيُوتِ اللهِ، يَتْلُونَ كِتَابَ اللهِ، وَيَتَدَارَسُونَهُ بَيْنَهُمْ، إِلَّا نَزَلَتْ عَلَيْهِمِ السَّكِينَةُ، وَغَشِيَتْهُمُ الرَّحْمَةُ وَحَفَّتْهُمُ الْمَلَائِكَةُ، وَذَكَرَهُمُ اللهُ فِيمَن عِنْدَهُ، وَمَنْ بَطَّأَ بِهِ عَمَلُهُ، لَمْ يُسْرِعْ بِهِ نَسَبُهُ» (النووي.۱۳۹۲ه ق. ج۱۷ص ۲۱) ؛ (ابن دقیق العید. ۲۰۰۳م. ج۱ ص ۱۹). ژباړه( هیڅ داسې قوم نشته چې د الله د کتاب د تلاوت او د هغه د مدارست لپاره د الله په یو کور له کورونو ( مسجدونو )کې راټول شوي؛ مګر چې الله پر هغوی اطمئنان نازلوی او د الله رحمت پرې خپرېږي او ملایکې ترې چاپېره کېږي او الله یې د هغه چا په منځ کې یادوي چې د هغه سره دي.

۸. له بې پامۍ ډډه کول: په خطبه کې د موبایل کارول، لوبې کول یا بل څه ته پاملرنه کول د خطبې ارزښت ته زیان رسوي او د عبادت ثواب کموي.

۹. د امامپه خطبې کې د موضوع ملاتړ کول: که د خطبې موضوع د ټولنې ستونزو حل کول وي، مخاطبین باید د هغې د عملي کولو لپاره هڅې وکړي او د مثبت بدلون برخه شي.

۱۰. د خطبې په اړه نورو ته پیغام رسول: مخاطبین باید د خطبې ګټور پیغامونه هغو کسانو ته ورسوي، چې حاضر نه وو، ترڅو د خیر او اصلاح حلقه پراخه شي ( الامام النووي. ۱۹۹۸. صص ۱۶۴-۱۶۶) .

**لاس ته راوړنې**

۱. د امام له خوا د جمعې له لمانځه څخه وړاندې د خطبې ویل واجب او شرط دي، نو له هغې پرته لمونځ نه صحیح کېږي.

۲. خطبه یوه بریالۍ وسیله ده چې مصلحین، علماء، داعیان او مشران یې د ټولنې د افرادو د سمونې لپاره کاروي.

۳. یوه ښه خطبه باید متوسطه وي، که چیرې ډېره اوږده وي په خلکو باندې ډېره سخته تمامېږي، ځکه ځینې خلک سپین ږیري، ناروغان او ځینې بیا خپلې بوختیاوې لري. خطبه باید ډېره لنډه هم نه وي، ځکه چې اصلي مطلب په کې نه ادا کېږي او بې پایلې پای ته رسېږي.

۴. اعتدال او منځلارى توب يو اساسي اسلامي اصل دى، چې رسول الله صلى الله عليه وسلم په ټولو چارو کې پرې ټينګار کړى دى او دا يې د نبوت يوه برخه همګرځولې ده.
۵. يو خطيب بايد د بصيرت، حکمت، علم او عمل خاوند وي.

**بحث او مناقشه:** ډېرى حنفي، مالکي، شافعي او حنبلي فقهاء او علماء په قران او حديث باندې استدلال کوي په دې نظر دي، چې د جمعې د خطبې ويل د جمعې دلمانځه لپاره شرط او فرض دي؛ خو يو لږ شمير فقها وايي چې خطبه سنت يا مستحب ده او د جمعې لمونځ له خطبې پرته هم اداء کيداى شي. د دوى دليل: خطبه د ديني نصيحت او تعليم لپاره ده، نه د لمانځه د شرط په توګه. اصلي خبر دا ده، چې د څلورو مذاهبو په اجماع سره د جمعې لمونځ له خطبې پرته صحيح نه دى. د جمعې خطبه د لمانځه اساسي شرط دى او له ديني نصوصو څخه يې د فرضيت په اړه ښکاره دلايل موجود دي.

## پايلې

د دغه تحقيق په نتيجه کې لاندې پايلو ته رسيږو.

۱. خطبه د پيغمرانو يوه کاميابه وسيله وه، چې د خلکو په اصلاح او روزنه کې ډېره اغېزمنه واقع کېده.
۲. ويناوالو ته په کار ده، چې په خپلو ويناوو کې قراني ايتونه شامل کړي، ترڅو ددوي وينا ښايسته کړي، د دليل قوت ورکوي او هغه سره د حق په وينا کې مرسته کوي. د ايت په استشهاد کولو او د هغه په مناسب وخت او ځاى کې په لوستلو سره وينا قانع کوونکى دليل جوړېږي، چې زړونه ځانته راکاږي، غوږونه تازه کوي او عقلونه د پوهېدو لوري ته رسوي.
۳. په خطبه کې د نبوي احاديثو شاملول، د مثالونو راوړل، قراني کيسې بيانول او په اشعارو استناد کول د خطبې اغيزې زياتوي، چې دا کړنه ډېر خلک تقوا او پرهيزګارۍ ته را اړوي.
۴. يو خطيب بايد عالم، با حکمته او با تدبيره واوسي. په هره جمعه کې يوه موضوع و ټاکي او هغه په سمه توګه وڅيړي. داسې نه وي چې په بېلابېلو موضوعاتو خبرې وکړي، موضوع د روښانتيا پرځاى د ابهام لوري ته لاړه شي او د اصلي موضوع د څېړلو حق هم ادا نه شي کړاى.

## أخذليكونه

قرآن کریم

ابن بطال، أبو الحسن علي بن خلف بن عبد الملك ( ١٤٢٣هـ - ٢٠٠٣م). شرح صحيح البخارى لابن بطال. الطبعة: الثانية. السعودية، الرياض: مكتبة الرشد.

ابن دقيق العيد، تقي الدين أبو الفتح محمد بن علي (١٤٢٤ هـ - ٢٠٠٣ م). الأربعين النووية في الأحاديث الصحيحة النبوية. الطبعة: السادسة: مؤسسة الريان

ابن قدامه، الموفق الدين عبدالله بن احمد بن محمد.(.١٩٩٢م). المغنى. مكتبة القاهره.

ابن القيم، شمس الدين ابو عبدالله محمد بن ابي بكر ( ١٩٩٤) . زاد المعاد.

ابو زيد بكر(٢٠٠٠). حلية طالب العلم

الأصبهاني، الإمام مسلم أبو نعيم أحمد بن عبد الله بن أحمد بن إسحاق بن موسى بن مهران. (١٤١٧هـ - ١٩٩٦م) .المسند المستخرج على صحيح. المحقق: محمد حسن محمد حسن إسماعيل الشافعي. الطبعة: الأولى، لبنان بيروت: دار الكتب العلمية.

البخاري، محمد بن إسماعيل أبو عبدالله البخاري الجعفي( ١٤٢٢ه ق). صحيح البخاري. الطبعة: الأولى. دار طوق النجاة

الترمذي، محمد بن عيسى بن سَوْرة بن موسى بن الضحاك، ( ١٣٩٥هـ - ١٩٧٥ م ).سنن الترمذي. الطبعة: الثانية، مصر: شركة مكتبة ومطبعة مصطفى البابي الحلبي.

التنوخي، سحنون بن سعيد (١٩٩٤). المدونة الكبرى. بيروت: دار صادر بيروت.

الجزري، مجد الدين المبارك بن محمد بن محمد بن محمد ابن عبد الكريم الجزري ابن الأثير الشيباني(١٩٩١). جامع الأصول في أحاديث الرسول. تحقيق : عبد القادر الأرنؤوط - التتمة تحقيق بشير عيون، الطبعة : الأولى. مكتبة الحلواني - مطبعة الملاح - مكتبة دار البيان

الدارمي، البُستي، محمد بن حبان ( ١٤١٤ – ١٩٩٣). صحيح ابن حبان بترتيب ابن بلبان. الطبعة: الثانية،المحقق: شعيب الأرنؤوط. بيروت: مؤسسة الرسالة.

الشافعي، أبو عبد الله محمد بن إدريس. .( ١٣٧٠ هـ - ١٩٥١ م) مسند الشافعي. بيروت لبنان: دار الكتب العلمية.

شربيني، خطيب ( ١٩٩٧) . الإقناع في حل ألفاظ أبي شجاع.

الشيباني، أبو بكر بن أبي عاصم وهو أحمد بن عمرو بن الضحاك بن مخلد. ( ١٤١١ – ١٩٩١). الآحاد والمثاني. المحقق: د. باسم فيصل أحمد الجوابرة، الرياض: دار الراية.

الفوزان، صالح( ٢٠٠٣). الخطبة وأحكامها في الفقه الإسلامي.

القاسمي، أبي القاسم، ابن الوزير، محمد بن إبراهيم، (١٤١٥ هـ ). العواصم والقواصم في الذب عن سنة. الطبعة:الثالثة. بيروت: مؤسسة الرسالة للطباعة والنشر والتوزيع.

المرغيناني،ابو الحسن على بن ابي بكر (٢٠٠٠م) .البداية فى شرح الهداية. دار الفكر.

الملا الهروي القاري، علي بن (سلطان) محمد، أبو الحسن نور الدين( ١٤٢٢هـ - ٢٠٠٢م. مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح. الطبعة: الأولى. بيروت لبنان: دار الفكر.

المدني، مالك بن انس بن مالك. موطأ الإمام مالك. ( ١٤٠٦ هـ - ١٩٨٥ م). بيروت لبنان: دار إحياء التراث العربي،

النسايى، أبو عبد الرحمن أحمد بن شعيب بن علي الخراساني، النسائي ( ١٤٠٦ – ١٩٨٦ ). السنن الصغرى للنسائي. الطبعة: الثانية. حلب: مكتب المطبوعات الإسلامية

النووي، ابو ذكريا يحيى بن شرف. (١٩٩٧م) . المجموع شرح المهذب. دار احياء التراث العربي.

النووى، ابو ذكريا يحيى بن شرف( ١٩٩٨) الأذكار النووية،

النووي، أبو زكريا محيي الدين يحيى بن شرف. ( ١٣٩٢). المنهاج شرح صحيح مسلم بن الحجاج. الطبعة: الثانية. بيروت: دار إحياء التراث العربي.

النيسابوري، مسلم بن الحجاج أبو الحسن القشيري. (ب ت). صحيح مسلم. المحقق: محمد فؤاد عبد الباقي، بيروت: دار إحياء التراث العربي.